# باچا خان او امن

## کېنېډین فلمسازې ټي سي مېک لوهن ته د اسفندیار ولي خان خراج تحسین

رحمت شاه سائل

قریب قریب د یوې پېړۍ پورې د امن د پاره د عمل په مېدان ولاړ، د امن او عدم تشدد لوئ مبلغ باچا خان یو طرفته د حق،انصاف د اواز د پاره د یو لوئ جابر پېرنګي سره په جنګ دے او بل طرف ته د امن او عدم تشدد په فلسفه هر وخت او هره ورځ نۀ یواځې خپلو پښتنو ملګرو ته لېکچر ورکوي، بلکې په دغه لار د ثابت قدمۍ د پاره ورته خپل ځان هم په عمل کښې پېش کوي. د ځنې پوهانو په ذهن کښې سوالونه هم پېدا کېږي چې ګوندې باچا خان د تضاداتو ښکار دے، ځکه چې یو طرف ته خلقو ته د پېرنګي سره د ازادۍ د پاره د جنګ جنګ خبرې کوي او بل طرف ته د امن او عدم تشدد په فلسفه زور اچوي خو دغه پېدا شوي سوالونه بهر ته هم نۀ راځي! ځکه چې باچا خان خلقو ته تش لېکچر نۀ ورکوي، صرف تبلیغ نۀ کوي، بلکې د خلقو نه مخکښې مخکښې هم په دغه لار په خپله روان دے او خلقو ته په صفا ټکو کښې په ډېره مینه او اخلاص وائي چې تاسو ته دې معلومه وي چې زما ملګرتیا د غمونو تکلیفونو او مصیبتونو نه ډکه ده. زما لار د ازغو نه ډکه لار ده، زما ملګرتیا هغه څوک کولے شي چې هغوي د خپل ملک او قام د پاره ځانونه خاورې کولو ته تیار وي. باچا خان عجیبه فېصله کړې ده! یو طرف ته شپه نۀ ګوري، ورځ نۀ ګوري په خلقو پسې ګرځي، کور کور، کوڅه کوڅه، حجره حجره، جومات جومات لټوي او بل طرف ته خلقو ته د هغۀ په لاره د تګ سختۍ هم په ګوته کوي او دا هم ورته وائي چې کۀ داسې نۀ شئ کولے نو خبر دے زما سره په دغه لار مۀ ځئ. ولې د هغه مقناطیسي وجود او د زړۀ د تل نه راوتې خبرې چې هر چرته ځي او هر چرته رسي او څوک ئې هم اوري نو داسې پرې مئېنېږي چې خپل کورکلے، خپله حجره او چوپال پرېږدي، په هم هغو ازغنو لارو هم د هغۀ سره ځي روانېږي او چې یو ځل پاځي نو نۀ یواځې شعور بېداروي بلکلې تاریخ هم جوړوي.




په اصل کښې باچا خان چې د جنګ کوم ټکے استعمال کړے دے، هغه ئې د جدوجهد په معنو کښې استعمال کړے دے، امن او عدم تشدد به په هغه موده کښې خلقو ته لوبې ټوقې ښکارېدې، عام

خلق د دغې فلسفې د اصليت نه بې خبره وو، ځکه چې د يو بېروني قوت په موجودګۍ کښې کۀ څۀ هم چرته چرته د پېرنګي په خلاف څۀ د بېدارۍ لهرونه هم راپورته شوي وو نو هغه به د جنګ په شکل کښې وو او جنګونه به د دغو لويو قوتونو نۀ ګټل اسان کار نۀ ؤ، د باچا خان جنګ جدوجهد ؤ او د يوې علاقې خبره نۀ وه، د ټولو پښتنو خبره وه او دغسې جنګونه قابو کول به د دغو قوتونو د وس نه هم بهر وو، باچا خان او د هغۀ ملګرو هغه جدوجهد سر ته ورسوو، پېرنګي ئې د هندوستان نه ووېستو او د باچا خان د امن او عدم تشدد فلسفه، هغه وخت د عامو خلقو په ذهنونو کښې هم راتازه شوه، ځکه چې د لويو قوتونو د رقابت جذبې اوس د دې اولسونو خاوره د جنګ مېدان جوړ کړې ؤ او اوس د باچا خان فکر او فلسفې يواځې د پښتنو د وطن اولسونه متوجه کړي نۀ دي بلکې ټوله دنيا ورته متوجه ده او اوس په بهرنۍ دنيا کښې خلقو د باچا خان په افکارو، کار، عمل او جدوجهد نۀ يواځې څېړنې شروع کړې دي، بلکې فلمونه هم پرې جوړوي. په دې حقله د کېنېډين فلمسازې ټي سي ميک لوهان فلم کوم چې ئې د باچا خان په ژوند، فکر او فلسفه جوړ کړے دے او د هغوي د خيال مطابق چې د باچا خان افکار د ټول انسانيت دپاره د صلحې يو عملي دعوت دے، ضرورت لري چې دغه افکار ټولې دنيا ته ورسي. په مډل ايسټ فلم فسټيول کښې د باچا خان ټارچ فار پيس په نوم دغې فلم ته وړومبے انعام ورکړے شو.

د دغسې عالمي ادارو دپاره د باچا خان افکار د امن دپاره تسليمول، په خصوصيت سره د باچا خان د ملګرو دپاره او د ټول پښتون قام دپاره د فخر او وياړ خبره ده. دا د نړۍ د قامونو سره د پښتون قام يو داسې نوې پېژندګلو ده چې سېوا د خدائي خدمتګارو او باچا خان د وجود او شخصيت نه بغېر ممکنه نۀ وه. په دې حقله د اې اېن پي قائد اسفنديار ولي خان د مېک لوهان دغې کاوش ته د خپل ځان او پښتنو د طرف نه خراج تحسين پېش کړے دے، کوم چې هغوي د يويشت کالو د خوارۍ او تحقيق نه پس نمائش ته پېش کړے دے.

د دغسې عالمي ادارو دپاره د باچا خان افکار د امن دپاره تسليمول، په خصوصيت سره د باچا خان د ملګرو دپاره او د ټول پښتون قام دپاره د فخر او وياړ خبره ده.

باچا خان د خپلو فکرونو او فلسفې سره لکه د يو روان درياب بې شکه په پسته او لاندې ژوره ژوه لار روان، د دنيا هغه سر ته ورسېدو او د انديش په قول د روح نه ئې هغه غږ راخېژي چې:

زۀ خو د ژوند د لارې هغې سر ته ورسېدم
تۀ چرته پاتې شوې اشنا زۀ چرته ورسېدم

هغه سړے هغه شخصيت چې د هغۀ د امن او عدم تشدد فلسفه د دنيا هغې سر ته ورسېده او نور نور قامونه ئې د ټول انسانيت د فلاح او بهبود دپاره يواځينۍ اسره ګڼي، د هغې سړي خپل وطن او خپل قام د نورې دنيا د لاسه د تشدد يو داسې سېلاب په مخه اخستے دے چې دنيا ئې تماشې کوي، ولې افسوس چې:

مونږ د مغرب د هر ماشوم ژړا مشرق کښې اورو
خو د مشرق د ماشوم شور مغرب ته ځنګ نۀ رسي